ډاکترعبدالرحمن زمانی

د۲۰۱۹ کال د جولاي ۱۲ مه

# د عین الدوله شهزاده امان الله خان عدالت او سخاوت

## (د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو د سلمې کلیزې د رارسیدو په مناسبت د بریتانوي هند د اسنادو له آرشیف څخه)

د شهزاده امان الله خان په هکله د کابل د امیر حبیب الله خان په دربار کې د بریتانوي هند د استازي حافظ سیف الله خان د استول شوي یوه سیاسی – استخباراتی رپوټ پښتو ژباړه .

حافظ سیف الله خان د ۱۹۱۶ میلادي کال د جولای د اتمې نیټي په خپل رپوټ کې لیکلي چې « دغه لاندې کیسه د عین الدوله شهزاده امان الله خان د عدالت او سخاوت څرګندونه کوي:

ویل کیږي چې یو مظلوم هزاره د اوږدې مودې دپاره د په کابل کې سرګردانه ؤ، او د وسیلې او پیسو د نه درلودو له امله یې خپل هغه فریاد او عرض د چاراوکو غوږونو ته رسولای نشو، د کوم دپاره چې کابل ته راغلې ؤ.

نوموړي هزاره یوه ورځ شهزاده امان الله خان په لاره کې  په آس سپور ولیدو او خپله پګړۍ یې د هغه مخې ته په ځمکه وویشتله، کوم چې د سخت خپګان او پریشانۍ څرګنده نښه وه.

شهزاده خپل آس و درلولو تر څو د هغه پر ستونزې ځان پوه کړي او هغه ته یې وویل چې د ده کور ته ورشي. خو بې وځله هزاره وایي چې څه شته او زر نه لري چې د هغه د څوکیدارانو لاسونه پرې غوړ او د ننوتلو اجازه ترلاسه کړي . شهزاده ورته د زرو  دوه کابلی روپۍ ورکوي.  تر هغه وروسته هغه سړی د شهزاده کور ته ځي او څوکیدارانو ته د سرو زرو د سکو په ورکولو سره د ننوتلو اجازه تر لاسه او خپل هدف ته رسیږي.

هغه شهزاده ته وائي چې د سرو زرو د دوو سکو په ورکولو سره یې د راتګ اجازه تر لاسه کړې ده. پدې خبره شهزاده څوکیداران راغواړي، لټوي یې او د سرو زرو د سکو په راویستلو سره امر کوي چې مخونه یې تور او تر وهلو ټکولو وروسته یې له  خپلو دندو ګوښه کړي».

(پای)

سرچینه:

Afghanistan & North West Frontier Diaries (L/P&S/10/202). Diary of the British Agent at Kabul Hafiz Saifullah Khan. Foreign & Political Department No. 1136-17.7.16-26.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ